# د طغیا نی مینی څو چیغي

---------------------------

## جدا شو

**اخر لیده کا ته وه یو له بل نه  چی جدا شو**

*یادیږی چي مو دواړو  په چیغو اوپه ژړا شو*
*ته یوخوااوزه بل خوا  غمجن په سلګو لاړو*
*یوبل ته ځیر کتل مو  له سترګو چي پناه شو*
*موسم د پسرلی وه  نا وخت ما زدیګری  وه*
*افق وه اور اخیستی چی  لمردغره په شا شو*
*هیڅکله نه انګیرل موچی یوبل نه جدا کیږو*
*حالاتو  داسي راغي  چی  مینه مو  تالا شو*
*د کلی عا شقا نو  زمونږ   په  حا ل  ژړلي*
*خوښی اوخوشحا لي  پر ما (مل) ناروا شو*

*جرمنی «2019-12-18»*

## با یللی

*په مینه دبل چا می داسی ځا ن  بایللی نه وه*
*چي تارانه زړه ویوربل چا زړه  وړی نه وه*
*زه ستا دتوروسترګودغمزو   په لومه ګیرشم*
*ما ستا په شان دلکشه هیڅو خت لیدلي نه وه*
*اوس څه پلمی کړم جوړچی ته می آشنا شي*
*بی تا مي زړه دبل چاترواک ولویدلی نه وه*
*اوس تا ته تمایل د «مل» وی څرګند شوي*
*چی تاهم پخپل مینه مل په شا ن کتلی نه وه*

*جرمنی «2020-04-22»*

## لیونی یمه

که په سرې کی مې شمیری خو سرې یمه
چی تا سره شم مخامخ اوس لیونې یمه
ستا په لیدو سره پرتا می صنم مینه راغې
له یاده نشم دی ایستی څو چې ژوندی یمه
ستا د نخرو په آباسین کی ولوید لی یمه
که می په ښنګ کی اووسی یاره خوندې یمه
ځماله ښنګه چیری مه ځه چې می زغم نشته دې
زه ستا په مینه کی ډیر تېینګ یو غرنی یمه
په لیونتوب کی دی بیاهم مینه همیش ساتم
که دې پخپل مینه رضا کړم (مل) بریا لی یمه

جرمنی « 04-05-2020»

## غمجن

جدا شمه بی تا شم غمجن او په ژړا شم
نیمګړی می شو مینه په کلی کی رسوا شم
ها څه چې مې ارمان وه په ښنګ کی دهرزمان وه
ارمان می پوره نشو محروم ستا له ادا شم
د ستا له سرو شونډو خولګی می نصیب نشو
شا واړول دی ماته ناهیلی او تنها شم
یادونه به دی ساتم تر څو چی زه ژوندی یم
زه «مل» ناکام په مینه جانان ستا له جفا شم

جرمنی «06-05-2020»

**

## لوریدل

تخنیږم چي مي سترګي ستا په سترګو ولګیږی
دا ځما سترګی وصال نه دی هڅکله نه مړیږي
د ستا په هر ادا سره په مینه دی ډوبیږم
چي ودی نه وینمه پرما ورځ ښه نه تیریږي
ریا مي مینه نه دي ته ځما د زړګي سر یي
سکروټی ځما دمیني هیڅوخت نه ایری کیږي
ما تا ته په اشارو د سترګو میل خپل ښودلي
هغه به کومه ورځ وي چي پر(مل) ولوریږي

جرمنی « 06-05-2020»

## بر بنډه

سپین مخ دي په پلو کله پټ کله بربنډه
په وړاندی می دسترګو راته مه جوړوه خنډه
انډول می د مینې تا سره نه اندازه کیږي
چی ودی نه وینم هغه ورځ می وی بی خونده
د سترګو په غمزو سره رغبت می درښودلي
د نا ز په تغا فل پرما وهلی تا ملنډه
ما ستا نوم دخپل زړه په دړه کی حک کړي
ستا مینه «مل» نه اچوي هیڅکله په ځنډه

جرمنی «09-05-2020»

***

## دمینی طغیان

د مینی په طغیان کي شرم وننګ له مینځه ځي
د یا ر په بیلتون کي سترګی اوښکی تویوي
په نا ز نیمرخ کتل دیا ر په زړه اور بلول دي

مین په بی پایاو آبا سین ځا ن غورځوي
دګل دهر اغزي محنت ګل باز په مینه کاږي
هرنا ز اونزاکت د خپل جا نا ن عاشق منـي
زه« مل»په دیدارد خپل صنم مورړشوی نه یم
خندا د سرو شونډو مـی عشق ته هڅوی

جرمنـی «2020-05-12»

## په کرشمو

پنډېی یی لاندی باندی ښورول په کرشمو
پرهیز یی ځما ما ت کړ د سترګو په غمزو
پرشګو د ساحل په غاړه پروت وه بربنډه
شین سترګي طلای زلفی ښا یسته په ښاپیرو
وربل یی لنده کړي شونډي سری ارغواني
چي سترګي ځما نه مړیدل دهغی په لیدو
د مینی شراره یی وریدل له شین چشما نو
دنازپه تغافل کی وه «مل» ډوب په مسکیدو

جرمنـی «2020-05-12»

## نوبها ر

شپه د سپوږمي نوبها ر هر خوا ګلزار دي
پالنګ کی ځای دی تش سترګی ځما په انتظار دي
د تا سره پا لنګ د پا سه خوب مزه کوي
نسیم چی ښه چلیږي ستا دزلفو خوږ عطا ر دي
راځه آشنا چي مینه سره وکړو په اخلاص
ځواني په مینه تیر کړو ځکه عمر بی اعتبا ر دي
زړښت کی ندامت «مل» نه لری هیڅ ګټه
راځه چی مینه وکړو ښه موسم د نوبها ر دي